## په کاناډا کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د سفيرې جلالتمآبې شنيکی کړوخيل، ژوندليک

ميرمن شينکۍ کړوخيل د ښځو د حقوقو يوه پېژندل شوې فعاله ده، چې د افغانستان د ولسي جرګې د غړې په توګه يې ۱۱ کاله دنده ترسره کړې ده. همداراز، نوموړې دد ې ترڅنګ، چې د افغان ښځو د شبکې غړې وه، څلور کاله د افغان ښځو د زده کړو د مرکز مشره پاتې شوې ده. ميرمن کړوخيل له نورو متنفذو او روغتيايي متخصصينو سره په ګډه، د ټول هېواد په کچه، د سرطان له ناروغۍ سره د مبارزې په پار، يو کمپاين په لاره واچوه- راځئ، چې د سرطان پر وړاندې مبارزه وکړو.

د افغانستان د لومړۍ ميرمنې، رولا غني په ملاتړ، د ميرمن شينکۍ کړوخيل د هڅو په پايله کې د افغانستان د سرطان د ناروغۍ بنسټ رامنځته شو Afghanistan Cancer Foundation (ACF) . دغه راز، د ۲۰۱۶ زکال د اکتوبر په مياشت کې د کابل په جمهوريت روغتون کې د انکالوجۍ يو وارد پرانيستل شو.

د ولسي جرګې د غړيتوب په موده کې، د افغانستان سفيرې ميرمن کړوخيل، د نورو همکارانو او د ښځو د حقوقو په برخه کې د فعالانو په مرسته، د ښځو پارلماني کاکس رامنځته کړ. د دوی د ټوليزو هڅو پايله وه، چې د افغانستان د ښځو لپاره يو ملی پلان (NAPWA) جوړ شو، چې وروسته بيا د حکومت لخوا تاييد اوتوشيح شو. همدارنګه، د افغانستان سفيره، د هغه ټيم غړې هم وه، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د قانون مسوده يې ترتيب کړه (EVAW) او بلاخره، دغه قانون په ۲۰۰۹ زکال کې د ولسمشر د فرمان له مخې توشيح شو. همدارز د يادوني ده، چې په کاناډا کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت اوسنۍ سفيرې، د شعيګانو د شخصي احوال په قانون کې د ۵۰ مادو په تعديلولو کې مهمه ونډه درلوده.

ميرمن کړوخيل، دښځو د حقوقو د پراختيا لپاره له ۱۹۹۰ لسيزې راپديخوا د هڅو او ملاتړ په پار ، له بيلابيلو ملي او نړيوالو ادارو څخه معتبرې جايزې هم ترلاسه کړې دي. هغې د ۲۰۱۶ زکال د اکتوبر په مياشت کې، د افغانستان له لومړۍ ميرمنې او د افغانستان د عامې روغتيا وزارت له خوا د سرطان ناروغۍ پر وړاندې د مبارزې په ټروا يوه جايزه تر لاسه کړه. د ۲۰۱۴ زکال د مي په مياشت کې «د ښځې د افغان ښځو لپاره ټولنې،» چې په کوينز کې ميشته ده، ميرمن کړوخيل ته د «ملالۍ کاکړ د بشري حقونو جايزه» ورکړه. په همدې ترتيب، د ۲۰۱۴ زکال په اګسټ کې، په ورجنيا کې ميشتې د افغان امريکايي ښځو ټولنې Afghan American Women’s Association (AAWA) ميرمن کړوخيل ته په افغانستان کې د ښځو حقونو د ودې په منظور بشري جايزه ورکړه. د ۲۰۱۲ زکال په سپتمبر کې دختيځ-لويديځ انسټيټوټ، د امريکا په متحدو ايالتونو کې يوې غيرې انتفاعي ادارې، شينکۍ کړوخيل او ډاکټر فهميده ميرزا- د پاکستان د ولسي جرګې مشرې –ته يوه ګډه جايزه د «ارزښتونو پر بنسټ رهبرۍ» تر عنوان لاندې (Value-based Leadership) ورکړه. پر دې سربيره، د ۲۰۱۵ زکال په ډسمبر کې د فساد پر وړاندې د مبارزې پر نړيواله ورځ دمدني ټولنې د همغږۍ مرکز د افغانستان سفيرې ته «د فساد پر وړاندې» جايزه ورکړه. د ښځو د حقونو د پراختيا لپاره د نوموړې فوق العاده کړنې د يو شمير رسنيو لخوا هم ستايل شوي دي، چې له هغې ډلې څخه په ۲۰۱۳ زکال کې د افغانستان په شمال کې مشهور تلويزيون «آرزو» هم ميرمن کړوخيل ستايلې ده.